د افغانستان اسلامي جمهوريت
د مالیې وزارت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

خبر پاڼه

د مالیې وزیر د ۱۳۹۵ مالي کال بودجه د ولسي جرګې عمومي ناستې ته وړاندې کړه

کابل٤ قوس ۱۳۹٤: د مالیې وزیر ښاغلي اکلیل حکیمي د لیندۍ د میاشتې په ۴ مه نیټه د ۱۳۹۵ کال د ملي بودجې طرحه د مشرانو جرګې د تائید څخه وروسته د ولسي جرګې عمومي ناستې ته وړاندې کړه. د مالیې وزیر د ۱۳۹۵ مالي کال بودجې په اړه تفصیلي معلومات ورکړل او ویې ویل: د ۱۳۹۵ کال بودجه د اوسنیو محدودیتونو سره سم ترتیب شوې ده چې له یوې خوا د دولت عادي لګښتونه تمویل کړي او له بلې خوا د مهمو پراختیایي پروژو د تطبیق چاري مخ ته لاړې شي او همدا راز نیمه پاتې پروژې بشپړې شي. د مالیې وزیر زیاته کړه چې ددې کال ملي بودجه د دولت د تشکیل، عوایدو او لګښتونو ترمنځ د تعادل، بودجه د امکاناتو پر اساس نه د غوښتنو له مخې، د روان کال د لګښتونو، د پراختیایي پروژو د تطبیق وړتیاؤ، د مرسته کوونکو د ژمنو، د لویو ملي پروژو، د اوسنیو پروژو د بشپړه کیدو او د بوجې د مثمریت او مؤثریت پر اساس ترتیب شوې ده. د مالیې وزیر زیاته کړه چې د سر کال ملي بودجه د عادي او پراختیایي بودجو په ګډون 461.8 ملیارده افغانۍ چې نژدې 7.3 ملیارده ډالر کیږي. په دې کې 283.3 عادي بودجه ده او 178.5 ملیارده افغانۍ پراختیایي بودجه ده چې د تیر کال په پرتله 25.7 میلیارد افغانۍ او یا 6 سلنه زیاتوالی ښیي .

د عمومي ناستې په پای کې د مالیې وزیر د ولس د استازو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د سر کال بودجه د منابعو د محدودیت او له ټولو ادارو سره د مشورو پر اساس جوړه شوې ده. د مالیې وزیر د ولس له استازو څخه هیله وکړه چې د اساسي قانون د ۹۷ او ۹۸ مادې له مخې د بودجې په اړه خپل وړاندیزونه او نظرونه ورکړي او بیا یې تصویب کړي.

تمه ده چې د مالیې وزیر په راتلونکې میاشت کې د ۱۳۹۵ کال بودجې په اړه د محترمو وکیلانو د نظرونو او وړاندیزونو د اوریدو په اړه یو ځل بیا ولسي جرګې په عمومي ناسته کې ګډون وکړي.

د ناستې په پای کې د مالیې وزیر د ۱۳۹۵ مالي کال د بودجې سند رسماً د ولسي جرګې د عمومي ناستې رئیس ته ور وسپاره.

###

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
اجمل حمید عبدالرحیمزی د مالیې وزارت ویاند او د اطلاتو او عامه پوهاوي ریاست سرپرست
د اړیکو شمیري: 0729994111 0202103620
بریښنالیک:mediaoffice.mof@gmail.com ویب پاڼه:www.mof.gov.af فیسبوک: وزارت مالیه/www.facebook.com